# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۸ د چنګاښ ۲۳مه | د ۲۰۱۹ د جولای ۱٤مه | درېیم کال|٤٠٣یمه ګڼه


# له میاشتو اعتراض وروسته؛

## هېڅ ارګان د معترضو نوماندانو پوښتنو او غوښتنو ته ځواب نه وایي




۳

امریکا ولې افغان حکومت د سولې په تړاو له غونډو وباسي؟

۲ مخ

افغان سوله؛ په قطر کې د امریکا ـ طالبانو اووم پړاو خبرې

۲ مخ

مصنوعي ځیرکتیا ((Artificial Intelligence))

۳ مخ

## پوهنتون

۴ مخ

### شرق د لوړو زده کړو موسسه

د لوړو زده کړو په دغه موسسه کې د تدریس چارې د ۳۹ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې له ډلې یې دری دوکتور، ۱۵ ماسټر او ۲۱ د لېسانس تر کچې لوړې زده کړې لري.




### په بلخ کې د «تغي بغي» د اوبولګولو کانال د رغولو چارې بشپړې شوې



د بلخ د کرنې ریاست لخوا د دغه ولایت په دهدادي ولسوالۍ کې د «تغي بغي» د اوبولګولو کانال د بیارغولو چارې بشپړې شوې دي.

د بلخ د کرنې ریاست چارواکي وایي، دغه کانال چې د کرنې وزارت په کرونده کې د اوبو د تنظیم پروژې لخوا رغول شوی دی، د بیارغولو ټولیز لګښت یې ۱۹.٦ میلیونه افغانۍ دی چې اوږدوالی یې شپږو کیلومترو ته رسیږي او دوه زره او ۷۰۰ جریبه کرنیزې ځمکې خړوبوي. یاد رغول شوی کانال ۴۰ سلنه د اوبو له ضایعاتو څخه مخنیوی کوي او همدا راز د هغو ځمکو کرنیز محصولات به هم ۲۰ سلنه ورسره لوړ شي چې د دې کانال له لارې خړوبیږي.

د یادې سیمې بزګران هم د دغه کانال له جوړېدو هرکلی کوي او وایي چې په جوړېدو سره به یې د دوی کرنیز محصولات د پام وړ زیات شي.

### د بشري حقونو د څار سازمان: هغه سرتېري باید مجازات شي چې په وردګو کې یې ډاکټران وژلي دي

د بشري حقونو د څار سازمان ویلي، هغه افغان کوماندویان باید محاکمه شي، چې د میدان وردګو ولایت پر یوه روغتون د شپنۍ چاپې پر مهال یې څلور ولسي وګړي وژلي دي.

د فرانسې د خبري اژانس له قوله، څو عیني شاهدانو د چنګاښ د ۱۷مې شپې د یادې پېښې په تړاو دغه سازمان ته د خپلو سترګو لیدلی حال ویلی دی.

د دغه اژانس په رپوټ کې راغلي چې ځانګړو ځواکونو د یوې کورنۍ مشر وواژه او وروسته یې د دریو نورو کسانو لاسونه وتړل او له ځان سره یې بوتلل. وروسته د دغو دریو کسانو مړي چې یو یې د روغتون کارکوونکی، بل یې د روغتون ساتونکی او درېیم یې د یوه ناروغ د کورنۍ غړی و، وموندل شول. تر چاپې وروسته د میدان وردګو والي مظفرالدین یمین هم له رسنیو سره په خبرو کې ویلي وو، چې د دایمیرداد ولسوالۍ د سیدانو په تنګي کې شپني عملیات شوي او څلور روغتیایي کارکوونکي پکې وژل شوي. د بشري حقونو د څار سازمان د اسیا د چارو مشرې پاتریشا ګوسمن ویلي: «پر روغتیایي بنسټونو برید د جګړې له قوانینو سرغړونه ده او که عاملان یې مجازات نه شي، دا ډول وضعیت به دوام ومومي.

د افغانستان حکومت باید هغه قوماندانان او سرتېري تر عدلي څار لاندې ونیسي، چې د برید امر یې ورکړی او برید یې کړی دی».

تر اوسه د افغانستان د دفاع وزارت او په افغانستان کې مېشتو امریکایي ځواکونو د بشري حقونو د څار سازمان د دغې غوښتنې لپاره غبرګون نه دی ښودلی.

### ډېری افغانان پر راتلونکو ټاکنو بې باوره دي



۲ مخ

### اداره هوانوردی ملکی: به زودی زمینه برای پروازهای مستقیم به اروپا ایجاد خواهد شد




موافقتنامه همکاری ارائه خدمات تفحص و نجات میان اداره هوانوردی ملکی و چند نهاد دولتی امضا شد.

این موافقتنامه همکاری ارائه خدمات تفحص و نجات، میان اداره هوانوردی ملکی و وزارت دفاع ملی، وزارت امور داخله، وزارت امور خارجه، اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، اداره ارگان‌های محل و وزارت صحت عامه، دیروز در مرکز رسانه‌های حکومت امضا شد.

داکتر محمد قاسم وفایی زاده رئیس عمومی اداره هوانوردی ملکی، قبل از امضای این موافقتنامه در یک کنفرانس خبری، پیرامون اهمیت این موافقتنامه و مباحث مرتبط به مسئله مصئونیت پروازها و اتخاذ تدابیر ایمنی در صورت بروز حوادث احتمالی صحبت کرد. موصوف با اشاره به آمادگی‌ها در خصوص تفتیش اداره هوانوردی ملکی از سوی سازمان بین‌المللی هوانوردی جهان (ICAO) تصریح کرد که آماده سازی اسناد تقنینی از جمله موافقتنامه همکاری میان ادارات مسئول، می تواند در امر موفقیت این تفتیش اثرگذار باشد. هدف از امضای این موافقتنامه تقویت و تسریع روند همکاری میان اداره هوانوردی ملی و سایر نهادهای دولتی است که در امر ارایه خدمات تفحص و نجات به شمار می رود.

داکتر وفایی زاده افزود که خوشبختانه روند آمادگی‌ها برای سپری کردن تفتیش نظام هوانوردی ملکی، با موفقیت به پیش می رود و با اکمال این روند، در کنار افزایش اعتبار ملی و بین‌المللی هوانوردی کشور، زمینه برای پروازهای مستقیم به اروپا نیز باز خواهد شد.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019




Easy English Learning

+93 (0) 789 98 9696

Shigal English Academy

www.shigal.edu.af

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

دریځ

## امریکا ولې افغان حکومت د سولې په تړاو له غونډو وباسي؟

د امریکا، چین، روسیې او پاکستان استازي په بیجینګ کې سره کښیناستل او د افغانستان د سولې په تړاو یې خبرې وکړې. دا غونډه مهمه ګڼل شوې او د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي چې په دې ناسته کې د تاوتریخوالي پر کمېدو او د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ پر مخامخ خبرو ټینګار شوی دی. د دې غونډې د ګډونوالو له خوا په یوه خپره شوې اعلامیه کې ویل شوي چې د سلا مشورو بهیر به روان ساتي او د درې اړخیزې ناستې پر بنسټ چې تېره اپرېل میاشت مسکو کې وربانـدې هوکړه شوې، نورو مهمو غاړو ته به هم په راتلونکې ناسته کې د ګډون بلنه ورکول کېږي. معلومه نه ده چې نورې مهمې غاړې کومې دي.

دا د مسکو، بیجینګ او واشنګټن د درې اړخیزو غونډو لړۍ ده چې لومړۍ یې په واشنګټن، دویمه په مسکو او دریيمه په بیجینګ کې وشوه، خو دا ځل غونډې ته پاکستان هم وربلل شوی و. افغان حکومت په دې غونډه کې نه و او دا هم نه دي ویلي شوي چې ولې افغان حکومت دې غونډې ته نه دی وربلل شوی. اوس پوښتنه دا ده چې که طالبان له افغان حکومت سره خبرې نه کوي، نو امریکا ولې داسې مهمو غونډو ته افغان حکومت نه ورغواړي؟

اوس اوس داسې ښکاري چې د سولې په تړاو غونډو کې د افغان حکومت منزوي کول یوازې د طالبانو نه، بلکې د امریکا کار هم دی. د افغانستان په تړاو د امریکا او طالبانو ترمنځ په خبرو کې حکومت نشته، دغه راز د طالبانو او افغان سیاستوالو ترمنځ په غونډو کې هم افغان حکومت نشته، چې ښایي لامل یې طالبان وګڼل شي، خو په داسې غونډو کې هم حکومت نشته چې هلته د طالبانو دریځ رول نه لري. د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو په دویم پړاو کې په متحده عربي اماراتو کې امریکا، طالبان، سعودي، امارات او پاکستاني چارواکي ناست وو، خو د حکومت استازو له غونډې د باندې انتظار کاوه او تر پایه غونډې ته پرې نه ښودل شول. هلته چې د افغانستان پر برخلیک خبرې کېدلې د ای اېس ای رییس، سعودي او اماراتي چارواکي ناست وو، خو د حکومت د استازو ځای نه و. په ځو نورو غونډو کې هم افغان حکومت هېڅ استازی نه لاره. د امریکا، چین او روسیې ترمنځ د افغانستان په تړاو په درې اړخیزو غونډو کې هم حکومت نه و. دا دی په دریيمه غونډه کې یې پاکستان ور ګډ شو، خو بیا هم افغان حکومت نه و. حکومت هم په دې تړاو غلی دی، نه خپله څه وایي او نه هم امریکا ته په ښکاره په دا ډول غونډو کې د دوی د نه ګډون اعتراض کوي. حکومت ځان خپلواک او ازاد ګڼي. د نړۍ کوم خپلواک او ازاد دولت اجازه ورکړې چې د خپل هېواد په تړاو په کېدونکې غونډه کې یې دې استازي نه وي!؟ که داسې شوي هم وي، په سرعت او شدت یې اعتراض کړی او دا ډول غونډې یې درولې دي. زموږ حکومت له بده مرغه نه په دې غونډو کې شته او نه هم داسې اعتراض کوي چې دا لړۍ ودرېږي. زموږ چارواکي د دې پر ځای چې د هېواد د برخلیک په اړه فکر او کار وکړي، پر کمپاین او بې ارزښته معاملو لګیا دي او هڅه کوي چې څه ډول خپل واک وغځوي او یو ځل بیا پنځه کاله دلته پر خلکو واکمن شي.

# افغان سوله؛

## په قطر کې د امریکا ـ طالبانو اووم پړاو خبرې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې خبرې اترې اووم پړاو ته ننوتلې دي. ټاکل شوې د روان اووم پړاو په پای کې د سولې هوکړه لیک اعلان شي. دواړه لورې مني چې په خبرو اترو کې پرمختګ شوی او د ډېرو مسایلو په اړه د نظر یووالي ته رسېدلي دي. سره له دې، تر اوسه د سولې هوکړه لیک وروستی او اعلان شوی نه دی.

د سولې خبرې اترې کوم ځای ته رسېدلې؟ د مذاکراتو د اووم پړاو پایلې به څه وي؟ د هوکړه لیک د وروستي کېدلو په اړه څومره پرمختګ شوی دی؟ د هوکړه لیک اعلان ولې تر اوسه ځنډېدلی دی؟ دا او ورته نورې پوښتنې په دغه تحلیل کې ځواب شوې دي.

**د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې خبرې اترې**

د سرطان میاشتې په ۸مه، امریکایي ډیپلوماټانو او طالب مشرانو د سولې اووم پړاو خبرې اترې د قطر هېواد په پلازمېنه دوحه کې پیل کړلې، چې ټاکل شوې وه درې ورځې دوام وکړي او په پای کې یې د دواړو اړخونو تر منځ د هوکړه لیک متن وروستی شي.

د دې پړاو مذاکراتو د دریيمې ورځې په پای کې، د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد، د طالبانو د سیاسي دفتر مشر ملا عبدالغني برادر او د قطر د بهرنیو چارو وزیر او د ملي امنیت سلاکار په ګډون پر جدي بحثونو سربېره، د هوکړه لیک مواد وروستي نه شول او د خبرو اترو موده وغځېدله. دا پړاو خبرې اترې ټاکل شوې وه له یوې ورځې دمې وروسته د سرطان میاشتې په ۱۵مه بیا پیل شي.

دواړو اړخونو منلې چې په دې پړاو خبرو اترو کې د هوکړه لیک ډېرې هغه مسئلې چې له پخوا پاتې وې، په ورو ورو حل کېږي او دوی د هوکړه لیک وروستي کېدلو ته نږدې شوي دي، خو تر اوسه څرګنده نه ده چې خبرې اترې کله پای ته رسیږي او دا چې په پای کې به یې هوکړه لیک اعلان شي او که نه.

طالبانو او امریکا تر اوسه د بهرنیو پوځیانو د وتلو د مهالوېش او د بهرنیو ترهګرو ډلو د فعالیت د مخنیوي د ضمانتونو په اړه هېڅ جزیات نه دي وړاندې کړي، خو طالبان پر دې ټینګار کوي چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالوېش باید د "نړیوالو شاهدانو" په حضور کې تر سره شي. که په دې توګه د بهرنیو ځواکونو د وتلو اعلان په اړه د هوکړه لیک متن وروستی شوی هم وي، د دې پروسې لوژستیکي اړخ، لکه: شاهدان به د کومې کچې استازي وي، د اعلان پر مهال به څوک ګډون کوي، اعلان به چېرته کیږي او داسې نور موارد دي چې کېدای شي د هوکړه لیک اعلانول یې تر اوسه ځنډولي وي.

په ورته وخت کې د سرطان په ۷مه او ۸مه نېټه دوحه ښار کې د قطر او جرمني په کوربه‌توب، د بین‌الافغاني مذاکراتو کنفرانس جوړ شو، چې موخه یې د دخیلو اړخونو تر منځ د باور جوړونې فضا برابرول ښودل شوې وه. په دې کنفرانس کې د حکومتي چارواکو، سولې عالي شورا غړو، سیاستوالو، مدني فعالانو او ښځو په ګډون ٦۴ کسانو برخه درلوده، خو افغان حکومت او طالبانو لادمخه سپیناوی کړی دی چې دا د افغان حکومت او طالبانو تر منځ رسمي خبرې اترې نه دي او برخوال په شخصي ډول کنفرانس کې ګډون کوي. د دې ناستې په پرېکړه لیک کې په دې اړه نبغ په نېغه څه نه دي ویل شوي، خو دا پرېکړه لیک د تاوتریخوالي په کموالي او د افغاني خبرو اترو پر دوام ټینګار کوي.

له دې سره، په یاد کنفرانس کې د ګډون کوونکي افغان پلاوي غړي وایي، کنفرانس به د حکومت او طالبانو د مخامخ خبرو اترو لپاره زمینې جوړولو کې اغیزمن ثابت شي.

**د خبرو اترو پروسه او پر سوله یې اغېزې**

د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې خبرو اترو د شاوخوا ۱۸ کلنې جګړې د پای په اړه هیلې راټوکولې دي. په ورته وخت کې د دواړو خواوو له لوري وړاندې شوو شرطونو او د ځینو مسئلو اړوند د نظر اختلافونو دا پروسه له ځنډ سره مخ کړې ده. د خبرو اترو روان اووم پړاو له دې امله د ډېر ارزښت وړ دی، چې ټاکل شوې په دې پړاو کې د سولې هوکړه لیک اعلان شي.

امریکا په دې شرط د بهرنیو پوځیانو د مهالوېش اعلان ته چمتو شوې ده، چې طالبان افغان خاوره کې د ترهګرو ډلو د فعالیت په مخنیوي، د هېواد په کچه اوربند او له افغان حکومت سره نېغو مذاکراتو ته چمتو شي. طالبان بیا په خپل وار ټینګار کوي چې د هر ډول هوکړه لیک لومړنی شرط د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالوېش اعلانول دي.

د بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه اندېښنه دا ده چې د سملاسي وتلو په پایله کې د امنیتي خلا د رامنځ ته کېدلو له امله داعش او نورې وسله والې ډلې پیاوړې کېدلای شي، چې دا په خپل وار د جګړې دوام ته لار خلاصوي. له همدې کبله پکار ده چې د بهرنیو ځواکونو وتل په مسوولانه ډول او د سولې او ثبات په پایله کې وي.

طالبان د مسکو او قطر په بین‌الافغاني مذاکراتو کې له ګډون سره سره، چمتو نه دي چې له افغان حکومت سره مخامخ خبرې وکړي. حکومت بیا د سولې هر ډول خبرې اترې او ګامونه د حکومت تر مشرۍ لاندې د اعتبار وړ ګڼي. دا په داسې حال کې ده چې د ستراتیژیکو او سیمه ایزو څېړنو مرکز یوه سروې ښیي، چې ډېری خلک د سولې په برخه کې د افغان حکومت هڅو ته د شک په سترګه ګوري.

د افغانستان د راتلونکي حکومت په اړه د طالبانو دریځ تر اوسه همدا دی چې د اسلامي امارت بڼه ولري او دا چې له نورو سیاسي جهتونو سره ګډ کار کولو ته چمتو دي، خو له افغان حکومت سره د نیغو مذاکراتو اړوند، لا تر اوسه طالبانو او حکومت هیڅ میکانیزم نه دی مشخص کړی.

اوسني وضعیت کې د افغانستان په جګړه کې دخیل هر اړخ د خپلو ګټو د خوندیتوب هڅه کوي، په داسې حال کې چې په دې حساس پړاو کې د ټولو خواوو له پلوه نرمي او لازمې قرباني ته اړتیا ده.

**پایله**

د طالبانو او امریکا تر منځ د خبرو اترو اووم پړاو په پای کې څرګندیږي چې د سولې په مذاکراتو کې د پام وړ پرمختګ شوی دی او زر به د سولې هوکړه لیک وروستی او اعلان شي.

د اووم پړاو خبرې اترې له دریو ورځو څخه زیاتې وغځېدې او له یو ځو ورځې دمې وروسته ټاکل شوې وه چې د سرطان په ۱۹مه به بیا پیل کیږي. طالبانو او امریکا د جزیاتو له ورکولو پرته منلې چې په خبرو کې د پام وړ پرمختګ شوی او د هوکړه لیک پای ته رسېدلو لپاره په ډېرو مواردو اتفاق شوی دی.

د سولې روانو خبرو اترو د جګړې پای ته هیله‌مندي ډېره کړې ده، خو د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته وضعیت او د راتلونکي افغان حکومت بڼه له هغو لویو موارد‌و څخه دي چې اندېښنې یې راولاړې کړې دي.

په افغانستان کې د جګړې اوږدوالی او د افغان ولس نه ختمېدونکي کړاو ته په پام، د جګړې ټولو ښکېلو اړخونو ته ښایي چې د سولې لپاره له رامنځ ته شوي فرصت نه پوره ګټه پورته کړي او نور د جګړې له شر څخه هېواد او ولس خلاص کړي. د دې فرصت له لاسه ورکول به د تاریخ داسې غلطي وي چې جبران به یې ممکن نه وي.

## دوستم د ولسمشر له اجازې پرته د جګړې لومړۍ کرښې ته تللی دی

د ولسمشر لومړي مرستیال عبدالرشید دوستم د ولسمشر او ملي امنیت شورا له اجازې پرته په جوزجان ولایت کې په نظامي عملیاتو کې برخه اخیستې ده. دوستم چې له اوږدې مودې راهیسې په حکومتي ناستو کې ګډون نه کوي، اوسمهال د وسله والو مخالفینو د ځپلو لپاره جوزجان ولایت ته تللی دی. نوموړي ته نږدې کسان وایي، نوموړي دا پرېکړه وروسته له هغې کړې چې د قوش تېپې ولسوالۍ له سقوط وروسته د جوزجان ولایت امنیتي وضعیت ترینګلی شو.

د دوستم په مشرۍ د ملي جنبش ګوند ویاند بشیر احمد ته‌ینج ویلي، نوموړی د اقچې، خانقا او فیض اباد ولسوالیو په عملیاتو کې د امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره جوزجان ولایت ته تللی دی. دوستم له دې وړاندې د ملي یووالي حکومت په لومړیو کې هم د ولسمشر د لومړي مرستیال په توګه په جوزجان او فاریاب ولایتونو کې د وسله والو مخالفینو د ځپلو په عملیاتو کې ګډون کړی و چې د ده په خبره، دغه کار یې د ولسمشر او د ملي امنیت شورا په مشورې سره کړی و، خو دا ځل داسې ښکاري چې نوموړی د ولسمشر او ملي امنیت شورا له اجازې پرته تللی دی.



ته‌ینج په دې اړه ویلي: «په هغو سیمو کې چې د نوموړي د حضور اړتیا ته په کتو لازم نه وو چې له چا نه اجازه واخیستل شي، له بده مرغه چې ولسمشرۍ ماڼۍ او د امنیت شورا د افغانستان شمال ته لازمه پاملرنه نه کوي. زموږ تصور دا دی چې د افغانستان شمال او شمال ختیځ سره سیاسي برخورد کېږي». د هغه په خبره، د خانقا او فیض اباد ولسوالیو لور ته د دوستم د تګ پر مهال د هغه کاروان له یوه کمین سره مخ شوی، چې هغه ته یې کوم زیان نه دی اوښتی. په ورته وخت کې د حقوقي چارو افغان کارپوهان وایي، د قانون له مخې په داسې اقداماتو کې د ولسمشر مرستیالان مکلف دي چې له ولسمشره اجازه واخلي. حقوقپوه سبحان مصباح وایي: «د ولسمشر مرستیال یوازې له ولسمشر سره همکاري کوي، د ولسمشر دواړه مرستیالان ذاتي صلاحیتونه نه لري، یوازې تفویضي صلاحیت لري، صلاحیت په هغه صورت کې لري چې ولسمشر نه وي، استعفا وکړي، په ناروغۍ اخته شي او یا هم ولسمشر وفات شي، په داسې حالاتو کې د ولسمشر مرستیالان د دریو میاشتو لپاره ذاتي صلاحیت لري».

## د تحقیق او تحلیل موسسه: ډېری افغانان پر راتلونکو ټاکنو بې باوره دي

د تحقیق او تحلیل موسسه په خپله دوه میاشتنۍ سروې کې چې د ټاکنو په اړه یې تر سره کړې، ښیي چې ډېری افغانان پر راتلونکو ټاکنو باور نه لري.

دغې موسسې چې په ۳۱ ولایتونو کې د ټیلیفون له لارې، له ۲۴۰۵ کسانو سره خبرې کړې، ویلي چې ۴۳،۳ سلنه خلکو تر دې دمه د رایې اچونې پرېکړه نه ده کړې او پر دغې پروسې باور نه لري.

دوی وایي، د دغو شمېرو لوړه کچه په کابل، هرات، مزارشریف او جلال آباد کې ده.

د دغې موسسې غړی نوید رحماني وایي: «زموږ د څېړنې ۴۳.۳ سلنه ګډونوالو تر اوسه په دې اړه پرېکړه نه ده کړې چې د خپلې خوښې کوم نوماند ته رایه ورکړي. اګر چې دغه څه د یوې څېړنې خلاصه ده او د ټاکنو وړاندوینه نه ده، خو دغه شمېر خلک چې د افغانستان د نفوس یوه برخه جوړوي، په همدې باور دي».



د دې موسسې د موندنو پر اساس د هغو قومونو فیصدي چې په راتلونکو ټاکنو کې د برخې اخیستو او نه اخیستو په تړاو یې تصمیم نه دی نیولی، ٦۱ سلنه هزاره، ۵۴ سلنه ازبک، ۴۳ سلنه تاجک، ۳٦ سلنه ترکمن او ۳۱ سلنه پښتانه دي.

دغه راز د دوی موندنې ښیي چې ۴۰ سلنه بزګرانو، ۳۴ سلنه سوداګرو، ۴۱ سلنه غیر دولتي کارکوونکو، ۴۵ سلنه دولتي کارکوونکو او ۳۸ سلنه بې دندو کسانو تر اوسه پرېکړه نه ده کړې چې خپله رایه چاته وکاروي.

د یادونې ده چې د تحقیق او تحلیل موسسې چې په ۲۰۱۸ ز کال کې پر فعالیت پیل کړی، دا یې د ټاکنو په برخه کې لومړنۍ سروې ده، چې د یوه خصوصي ټلوېزیون په مالي مرسته یې کوي.

# له میاشتو اعتراض وروسته؛

## هېڅ ارگان د معترضو نوماندانو پوښتنو او غوښتنو ته ځواب نه وايي




د ولسي جرگې معترضي نوماندانې وايي، له تېرو درېو میاشتو راهیسې یې څوک د عدالت غږ نه اوري. معترضینو، چې تر ارگ وروسته یې د ستري محکمې مخې ته پرلت پیل کړی وايي، له تېرو درېو میاشتو راهیسې یې د ارگ مخې ته اعتراض وکړ، خو چا یې پوښتنه ونه کړه او که یې څوک غږ نه اوري، نو له دوی څخه دې د افغانستان هویت واخیستل شي.

د ولسي جرگې په تېرو ټاکنو کې تر پراخو درغلیو او تورونو وروسته، ځینې ښځینه نوماندانو اعتراضونه پیل کړل. دوی ادعا کوي چې حق یې خوړل شوی دی او گواکې د پیسو په بدل کې د دوی پر ځای نورې نوماندانې ولسي جرگې ته بریالۍ کړل شوې دي. خو حکومت د میاشتو په تېرېدو لا هم د دغو معترضو نوماندانو غږ نه دی اورېدلی. دوی د دې غوښتونکې دي چې حکومت دې ځانگړې محکمه ورته جوړه کړي، که یې رایې درلودې، بریالۍ دې شي او له دې پرته دې د دوی پر حقوقو سترگې نه پټېږي.

دغه معترضې نوماندانې وايي، د ارگ له مخې څخه په زور شړل شوې او اوس د عدالت غوښتلو لپاره د ستري محکمې مخې ته راغلې دي او د عدالت غوښتنه کوي. دوی وايي، د ولسي جرگې په ټاکنو کې فساد شوی او ستره محکمه باید د دوی اسناد وڅېړي. د ولسي جرگې ټاکنو ته نومانده ډېوه نیازۍ وايي: ((د ستري محکمې مخې ته مو خېمه وهلې ده. دوی باید د فساد قضیه وڅېړي. ټولو ته بربنډه او واضح ده چې په تېرو ټاکنو کې څومره فساد وشو. د قضایه قوې دنده ده چې دغه قضیې وڅېړي)).

معترضې نوماندانې ادعا کوي چې مخکې یې د اجرایه قوې مخې یا ارگ سره پرلت کړی و، خو حکومت یې غږ نه دی اورېدلی او اوس اړ شوې چې د ستري محکمې مخې ته راشي. نوماندانې وايي، په تېرو اعتراضونو کې ورسره ناوړه چلند شوی دی او حقوق یې تر پښو لاندې شوي دي. د ولسي جرگې نومانده فرزانه فرهمند وايي: ((څه باندې درې نیمې میاشتې وشوې چې اعتراض مو کړی دی، خو هېڅوک زموږ غږ نه اوري. دوی زموږ عریضې او اسناد نه څېړي)).

د ولسي جرگې نوماندانې وايي، ستره محکمه یې وروستۍ مرجع ده چې دوی ترې د عدالت تمه لري. د نوماندانو په خبره، هر ارگان ورته وايي چې دا قضیه په دوی پورې اړه نه لري او دا مسئله نوره تړل شوې ده. نوماندانې وايي، سره له دې چې د ټاکنو کمېسیون پخواني غړي او مشران د فساد په تور له دندو لرې کړل شول، خو حکومت یې پایلې او کړنې باوري گڼي.


د ولسي جرگې نوماندانې وايي، که یې حکومت غږ نه اوري، نو له دوی دې د افغانستان تابعیت واخیستل شي. د دوی په خبره، کله چې حکومت د افغانانو په سترگه نه ورته گوري، نو هویت، پاسپورت او تابعیت دې ترې واخیستل شي.

دغه معترض نوماندان له ارگ وروسته د ستري محکمې مخې ته داسې مهال خپل اعترض پیلوي، چې په زنبق څلورلارې کې د دوی د اعتراض پر وړاندې څو ځله له تشدده کار واخیستل شو، چې حتی د ځینو دغو نوماندانو لاسونه د تاورتریخوالي پر مهال مات شول.

د ولسي جرگې د تېرو ټاکنو کړکېچنو ستونزو ته په کتو ډېری خلک پر دې باور دي، چې ښایي د ټاکنو کمېسیون راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې هم په سمه توگه تر سره نه شي کړی. پر ټاکنو څارونکې بنسټونه هم په دې اړه اندېښنه لري او وايي، ښايي راتلونکې ټاکنې له کړکېچه ډکې وي.

---

## د سولې عالي شورا: د حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې د ټولې نړیوالې ټولنې غوښتنه ده



د سولې عالي شورا د رهبرۍ پلاوي غړي وايي، له افغان حکومت سره د طالبانو د رسمي مذاکراتو خبره یوازې د پاکستان، چین او روسیې نه؛ بلکې د ټولې نړیوالې ټولنې غوښتنه ده.

د پاکستان، چین او روسیې لخوا پر طالبانو له افغان حکومت سره د خبرو تر غږ وروسته، اوس د سولې د عالي شورا د رهبرۍ پلاوي غړي وايي چې په دې اړه خبرې ډېرې رانږدې شوې دي.

د سولې عالي شورا د رهبرۍ پلاوي غړي قاضي محمد امین وقاد له ازادي راډیو سره په خبرو کې هیله ښودلې، چې په دې برخه کې به لازمې پایلې تر لاسه شي.

هغه ویلي: «موږ هیله من یو او طالبان وروڼه هم په دې خبره تر هر چا ښه پوهېږي چې مسئله په دې نه حلېږي چې موږ له امریکایانو سره خبرې کوو، د مسئلې حل دا دی چې بین‌الافغاني مذاکرات پیل شي، په هغې کې اهتمام وشي، تعهدات وشي، د افغانستان اجنډا وي، افغانان اجنډا وي، سوله اجنډا وي، قانونیت او عدالت اجنډا وي او مشارکت اجنډا وي».

نوموړي ویلي چې له افغان حکومت سره د طالبانو د رسمي مذاکراتو خبره یوازې د پاکستان، چین او روسیې نه؛ بلکې د ټولې نړیوالې ټولنې غوښتنه ده.

دا څرگندونې داسې مهال کېږي چې د افغانستان لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد پر خپله ټوېټرپاڼه لیکلي چې په چین کې د افغان سولې په غونډه کې ټولو لورو هوکړه وکړه چې د طالبانو، افغان حکومت او نورو افغانانو تر منځ د سولې مذاکرات باید ژر تر ژره پیل شي.

د چین په پلازمېنه بېجېنگ کې د افغان سولې په تړاو د درېیم پړاو سلا مشورو په دې غونډه کې چې د چهارشنبې او پنجشنبې په ورځو یې دوام وکړ، د امریکا د ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد تر څنگ د چین، روسیې او پاکستان استازو هم گډون کړی و.

## ارگ: له بودجوي اړخه ټاکنو ته پوره چمتووالی لرو



ولسمشرۍ ماڼۍ ویلي، د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو بودجوي لگښت ته یې پوره چمتووالی نیولی دی.

ولسمشرۍ ماڼۍ دغه څرگندونې داسې مهال کوي چې د ټاکنو کمېسیون تېره اونۍ پر وخت د ولسمشریزو ټاکنو تر سره کېدو لپاره د بودجې د برابرولو غوښتنه وکړه.

د ولسمشرۍ ماڼۍ د ویاند مرستیال صمیم عارف امریکا غږ ته ویلي، چې افغان حکومت تازه د راتلونکو ټاکنو د لگښت لپاره ۹۰ میلیونه ډالره بودجه منظور کړې ده.

هغه زیاته کړې چې پر راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو باندې ۱۴۹ میلیونه ډالره لگښت راځي چې ۵۹ میلیونه یې د نړیوالو متحدینو او ۹۰ میلیونه یې د افغان حکومت له خوا ځانگړې شوې دي.

هغه ویلي: «حکومت چمتووالی نیولی دی، که تر دې اضافه بودجه هم پکار وي، حکومت چمتو دی؛ ځکه ټاکنې یوه ملي پروسه ده او د حکومت لپاره یو ستر لومړیتوب دی چې باید تر سره شي».

نوموړي زیاته کړې چې مالیې وزارت هم د ټاکنیزو کمېسیونونو له مسوولینو سره خبرې کړې او په دې اړه یې پوره ډاډ ورکړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو کمېسیون تر دې مخکې د راتلونکو ولسمشریز ټاکنو د مدیریت او په ښه ډول د عملیاتي چارو تر سره کېدو لپاره پر وخت د بودجې سپارلو غوښتنه کړې وه.

د دغه کمېسیون ویاند ذبیح الله سادات ویلي چې د بودجې سپارلو په اړه یې د مالیې وزارت له خوا ډاډ تر لاسه کړی. هغه ویلي: «د بودجې په برخه کې د مالیې وزارت له خوا موږ ته ډاډ راکړل شوی دی. کومې اندېښنې چې موږ لرلې هغه اوس لرې شوې دي».

نوموړي دغه راز ویلي چې نړیوالې ټولنې هم له خپل اړخه دوی ته د بودجې ورکولو په اړه ډاډ ورکړی دی.

ولسمشریزې ټاکنې چې د اشرف غني او عبدالله عبدالله په گډون ۱۸ تنه ورته کاندیدان دي، ټاکل شوې د راتلونکې تلې میاشتې په ٦مه تر سره شي.

---

## امریکا: انقرې ته د اېف- ۳۵ الوتکو په تړاو د واشنگټن په دریځ کې بدلون نه دی راغلی



د امریکا سرپرست دفاع وزیر ویلي، ترکیې ته د اېف- ۳۵ الوتکو د پلور په تړاو د متحده ایالتونو په دریځ کې بدلون نه دی راغلی.

د امریکا سرپرست دفاع وزیر مارک ایسپر دغه راز ویلي، چې د ترکیې له خوا د اېس- ۴۰۰ توغندیو دفاعي سیسټم له تر لاسه کولو خبر دي، خو د اېف- ۳۵ جنگي الوتکو په اړه د امریکا دریځ نه دی بدل شوی.

د نوموړي دغه څرگندونې داسې مهال دي چې ترکیې د جمعې په ورځ له روسیې د اېس- ۴۰۰ توغندیو پرمختللي دفاعي سیسټم تر لاسه کول پیل کړل.

د ترکیې له دغې پرېکړې وروسته اوس اندېښنه دا ده چې امریکا ښايي پر دغه هېواد بندیزونه ولگوي.

د امریکا سرپرست دفاع وزیر مارک ایسپر په واشنگټن کې د ازبکستان له دفاع وزیر باخودر قربانوف سره د لیدو پر مهال په دې اړه ویلي: «موږ خبر یو چې ترکیې د S-۴۰۰ سیسټم تر لاسه کړی، د F-۳۵ جنگي الوتکو په اړه زموږ دریځ نه دی تغییر شوی او زه به له خپل ترکي سیال د دفاع وزیر هولوسي اکار سره خبرې هم وکړم، له دې خبرو وروسته به معلومات شریک شي».

د نوموړي له دغو څرگندونو مخکې د ترکیې دفاع وزارت ویلي چې د اېس- ۴۰۰ دفاعي سیسټم لومړۍ برخې د انقرې یوې نظامي اډې ته انتقال شوې ده.

له دغه اقدام سره د ترکیې او روسیې تر منځ د دغه دفاعي سیسټم په برخه کې توافق نور هم پوخ شو. دا هغه څه دي چې واشنگټن یې له میاشتو راهیسې د مخنیوي لپاره هڅې پیل کړې دي.

له بلې خوا امریکا ترکیې ته خبرداری ورکړی چې روسي نظامي تجهیزات د ناټو له سیسټم سره سر نه خوري او که دغه هېواد له روسیې څخه دفاعي سیسټم وپېري، امریکا به یې د اېف- ۳۵ جنگي الوتکو له پروگرامه وباسي.

خو ترکیه وايي، دا سیسټم یې د ستراتېژیکې دفاع لپاره ډېر مهم دی، په ځانگړې توگه له سوریې او عراق سره د جنوبي پولې د ساتلو په برخه کې او په خبره یې، کله یې چې له روسیې سره د اېس- ۴۰۰ دفاعي سیسټم د پېرلو هوکړه وکړه، اروپا او امریکا هېڅ بدیل نه درلود.

تېره میاشت د شلو اقتصادي قدرتونو په غونډه کې د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د امریکا له ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره تر لیدو وروسته وویل چې امریکا پر ترکیه د اېس- ۴۰۰ دفاعي سیستم پېرلو له کبله د بندیزونو پلان نه لري.

خو واشنگټن سر له اوسه د اېف-۳۵ جنگي الوتکو له پروگرامه د ترکیې د ایستلو پروسه پیل کړې او په امریکا کې یې د دغو الوتکو لپاره د ترکي پیلوټانو د روزلو پروگرام هم ځنډولی دی.

## د کتـــاب خبـرې


# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### لومړی څپرکی
### د یوویشتمې پېړۍ پښتانه




د یوې منظمې ډلبندۍ له مخې پښتانه پر څلورو قومي ګروپونو وېشل شوي، سربڼ، بېټني، غرغښت او کرلاڼي. لومړني درې د قیس زامن دي، وروستی یې په زویتوب نیولیو سړبن په دوو ښاخونو وېشل شوی (ښرخبون او خرښبون). نن ورځ د دې څانګې تر ټولو مهم قومونه؛ شېراڼي، ترین او اورمړ، دراني، خلیل، مومند، داوودزي، څمکني، یوسفزي، شینواري، کاسي اوترکالاڼي دي.

دوهم ښاخ (بېټني) دغه څانګې لري: بېټني، نیازیان، لودیان، مروت، بابر، ګنداپور، کندیان او غلجي دي. غلجي د دې جغرافیې تر ټولو لوی قوم دی چې کوچیاني ژوند لري، د پښتنو په منځ کې ورته کوچیان وایي. هوتک، سلېمانخېل، خروټي، علي خېل، ناصر او ترکي د غلجي ټبر اړوند قومونه دي.

د غرغښت په څانګه کې کاکړ، مندوخېل، موسی خېل او پاڼري قومونه شاملېږي چې د پاکستان په بلوچستان کې اوسېږي. صافي (ساپي) او ګاډون قومونه بیا په خیبر پښتونخوا او د افغانستان په ختیځ کې اوسېږي.

د مغلو په حواله چې څلورمه څانګه لږ پېژندل شوې وه، هغوی لا هم د خپل قومي دستور ډېرې برخې او اصول له ځان سره ساتلي، دا قوم د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته اوسېږي. کرلاڼیو څانګه کې د پښتنو یو شمېر مشهور قومونه شته، لکه؛ افریدي، خټک، منګل، ځدراڼ، مقبل، ځاځي، بنګښ، محسود (مسید)، اورکزي، خوږیاڼي، داوړ، بنوڅي، وردګ، توري او وزیر دي. پښتون له دغه لوی پېچلي قومي جوړښت څخه جوړ دی چې د نړۍ تر ټولو په قبیلوي توګه منظمه قومي ټولنه جوړوي.

**یو تکاملي ټولنیز انځور**

پښتانه په دوو ګاونډیو خو ځینې وخت له یو بل سره مخالفو هېوادونو او سیاسي جوړښتونو کې اوسېږي. هغوی په پراخو اقتصادي فعالیتونو کې ښکېل دي چې د نړیوالتوب (Globalization) له روښانه او تاریکو اړخونو سره اړخ لګوي. د ښاري او کلیوال ژوند له پلوه یې جوړښت له یو بل سره توپیر کوي، په ټولنه کې د هغوی د ګډون او نه ګډون کچه هم له یو بل سره توپیر لري. دې ته ورته په پرمختګ او عصریتوب کې هم د هغوی د ګډون کچه یو ډول نه ده. له بلې خوا په تېرو درېیو لسیزو کې پر دوی د تاوتریخوالي د اچول شوو فشارونو شدت هم توپیر کوي. له دې ډلې کوچیان له سختو جګړهییزو کړاوونو سره مخ شوي چې د هغوی پر تګ او راتګ یې ژور اغېز اچولی دی.

د پښتنو مورنۍ ژبه پښتو، له هندو-اروپایي ژبو څخه ده. د ښاري ژوند له پراختیا او له نور قومي نفوس سره د یو ځای اوسېدو له کبله ځینې پښتانه په دوو ژبو خبرې کولای شي. هغه سیمې چې د نورو هېوادونو بېلابېلو ژبني او کلتوري جوړښتونو ته څېرمه پرتې دي، خلک یې له نورو ژبو او کلتورونو سره بلد شوي. ځینې وړې ډلې چې د خبرو کولو لومړنۍ ژبه یې پښتو هم نه وي، بیا هم خپل ځانونه پښتانه معرفي کوي. یوه بېلګه یې په افغانستان کې د محمدزیو شاهي خاندان و چې په دري ژبه یې خبرې کولې خو په اصل کې پښتانه وو. په شلمه پېړۍ کې یې دري ژبه پر خولو شوې وه، خو لا هم پر خپله پښتونولۍ کلک ولاړ وو. پښتو د پښتنو د هویت تر ټولو لویه نښه ده. پښتو کول او پښتونولي پالل له پښتو ژبې سره نېغې اړیکې لري.

پښتونولي د قومي ټولنې له سازماني جوړښت سره پراخ ګډون لري او هغه ارزښتونه په خپله غېږه کې پالي چې له لویو ګاونډیو تمدنونو سره اړخ لګوي، خو پښتونولي یو شمېر ځانګړي بنسټیز ایډیالونه لري چې په پښتنو کې په جمعي او فردي توګه د لوړ ارزښت وړ دي. غربي لیکوال د پښتنو د سلوک په اړه په خپلو لیکنو کې پښتونولي په بشپړه توګه نه راپېژني بلکې د یوه واړه او ساده انځور په توګه یې وړاندې کوي. په پښتونولۍ کې «ننګ»، «مېلمهپالنه» او «بدل» درې اساسي «اصول» دي. بدل یوازې د غچ اخیستلو په مانا نه دی، بلکې یو پراخ او پېچلی مفهوم وړاندې کوي. تربورګلوي چې ډېری وخت د تربرونو ترمنځ پالل کېږي او سیالي چې د کورنیو ترمنځ پالل کېږي په پښتني ټولنه کې ژورې ریښې لري.

پښتونولي په خپل ځان کې «ښښنه»، «برابري»، «پر مساواتو باور» او «زړورتیا» هم را نغاړي چې دا یې هم بېل «ارزښتونه» دي. «جرګه» د پښتنو هغه «ټولنیزه موسسه» ده چې د ځایي شخړو د حل لپاره له ځایي مشـرانو جوړېږي، همدارنګه د راتلونکو ستونزو او ګواښونو د لیرې کولو او مخنیوي لپاره هم جرګه دایرېږي. پښتنو له پېړیو راهیسې د پښتونولۍ پر محور د ژوند کولو او ستونزو د حل لپاره قوانین او اصول جوړ کړي چې خلک عمل پرې کوي. دا اصول ډېری غیر مدون( نالیکلي) دي چې د دولتي بنسټونو د نشتون په صورت کې جوړ شوي دي. لنډه دا چې پښتونولي له ډېرو نړیوالو اصولو سره سر خوري، خو یوازې د ځایي قومي ارزښتونو په توګه پاتې شوې ده. ډېری پښتانه سني مسلمانان دي او حنفي مذهب پالي. د پاکستان په کورمه کې توری قوم او د هغوی په ګاونډ کې بنګش او اورکزي قومونو ځینې کورنۍ او په افغانستان کې یو شمېر وړې ټولنې امامي شیعه مذهب (ژباړن: اثنی عشری) پالي. په پښتني قومونو کې تصوف هم یو شمېر پلویان لري. په افغانستان او پاکستان کې ډېری دیني علماء ځانونه دیوبندیان بولي او سرچینه یې له دیوبند اسلامي غورځنګ څخه اخیستل شوې چې د نولسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي په برېټانوي هند کې پیل شوی غورځنګ دی.

په تېرو درېیو لسیزو کې د افغانستان او پاکستان د پښتنو په سیمو کې افراطي ایډیولوژۍ خپرې شوې چې د نړیوال جهاد تبلیغ کوي. جهادي ایډیولوژي په سیمه کې خپره شوې. د دودیزو مذهبي نظریو پر خلاف د راډیکالو اسلامي نظریو راتلل تل له بهر څخه په پرلپسې توګه تمویل شوې دي.

**دوام لري...**

# شرق د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي




شرق د لوړو زده کړو موسسې د لومړي ځل لپاره د یوه تعلیمي مرکز په توګه په ۲۰۱۰ ز کال کې د پوهنې وزارت په چوکاټ کې فعالیت پیل کړ. د دې موسسې علمي مرستیال ښاغلی زین الله ساپی وایي، هغه وخت یې په دې علمي مرکز کې په دریو برخو، انجنیري، کمپیوټر ساینس او د پېښو د خطرونو راټیټولو په برخه کې د دوو کلنو پروګرامونو په درلودلو سره محصلینو ته زده کړې ورکولې. په ۲۰۱۲ ز کال کې یې خپله موسسه له لوړو زده کړو وزارت سره عملاً ثبت کړه او نوموړي وزارت ورته د لوړو زده کړو په برخه کې د فعالیت جواز ورکړ. ښاغلی ساپی وایي، د لوړو زده کړو په برخه کې یې له پیل سره سم دوه پوهنځي (ساینس او اقتصاد) د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ د دې موسسې په چوکاټ کې فعال کړل. دی وایي، ساینس پوهنځي یې دوه ډیپارټمنټونه (کمپیوټرساینس او د پېښو د ګواښونو راټیټولو) ډیپارټمنټونه درلودل، په اقتصاد پوهنځي کې یې (اداره او تجارت) ډیپارټمنټ درلود او په همدې پوهنځیو کې یې محصلین جذب کړل.

دغه موسسه له پیله تر اوسه همدا دوه پوهنځي او درې ډیپارټمنټونه لري. د ښاغلي ساپي په خبره، په ۲۰۱۷ ز کال کې یې لږ تر لږه ۹۰۰ محصلین درلودل. نوموړی وایي، او سمهال شرق د لوړو زده کړو موسسه په خپلو دوو پوهنځیو کې د ۷۰۰ په شاوخوا کې محصلین لري، چې ۹۳ سلنه یې نارینه او پاتې نور یې ښځینه محصلین دي. ډېری پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې هڅه کوي چې کال په کال یې د پوهنځیو او محصلینو شمېر زیات شي، خو دا چې ولې د تېرو دوو کلونو په پرتله د شرق د لوړو زده کړو موسسې د محصلینو شمېر کم شوی دی، په اړه یې ښاغلي ساپي څه ونه ویل.

له پیله تر اوسه پورې شرق د لوړو زده کړو موسسې له خپلو فعالو پوهنځیو څخه لږ تر لږه ۴۰۰ محصلین د لیسانس په کچه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي، چې ډېر یې اوس په دولتي او غیر دولتي ادارو کې پر دندو بوخت دي. دا چې افغانستان یو له هغو هېوادونو شمېرل کېږي، چې وخت ناوخت په کې طبیعي پېښې رامنځ ته کېږي، نو د پېښو د خطرونو راکمولو څانګې ته په دې برخه کې ډېره اړتیا لیدل کېږي. له دې پوهنځي څخه فارغ محصلین کولی شي چې خلکو ته د زلزلې، سېلاب، غره ښوېدنې او نورو طبیعي پېښو پر مهال د ځان ساتلو په اړه عامه پوهاوی ورکړي.

شرق د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې د لږ تر لږه ۳۹ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي. د ښاغلي ساپي په خبره، د لوړو زده کړو وزارت لایحه ده چې باید د پوهنتونونو استادان هغه که د دولتي وي او یا هم خصوصي وي، لږ تر لږه د ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې ولري. دی وایي، درې تنه استادان یې د دوکتورا، ۱۵ یې د ماسټرۍ او پاتې ۲۱ نور یې بیا د لیسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. نوموړی وایي، هڅه یې دا ده چې په نږدې راتلونکې کې یې هغه استادان چې لیسانس دي، په کور دننه او یا هم بهر کې د ماسټرۍ په پروګرامونو کې شامل شي.

دغه موسسه د کابل پر مرکزي پوهنتون سربېره، په کابل ښار کې له فعالو لږ تر لږه ۸۰ خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو سره علمي او اکاډمیکې اړیکې لري. د دې موسسې علمي مرستیال وایي، له کابل پوهنتون سره د یوې هوکړې له مخې د دې پوهنتون د پېښو د خطرونو راکمولو برخې له کریکولم او تجربو څخه ګټه اخلي، د موسسې محصلین یې د عملي زده کړو لپاره هلته ورځي او دغه راز د دې پوهنځي محصلین کله کله په هغو ورکشاپونو کې برخه اخلي، چې د شرق د لوړو زده کړو په موسسه کې جوړېږي. ښاغلی ساپی وایي، تېر کال د کابل پوهنتون د پېښو د د خطرونو راکمولو څانګې محصلینو په هغه لس ورځني ورکشاپ کې ور سره برخه واخیسته، چې د شرق لوړو زده کړو په موسسه جوړ شوی و. د دې ترڅنګ، شرق د لوړو زده کړو موسسه د خصوصي پوهنتونونو د اتحادیې غړیتوب هم لري، چې وخت ناوخت په اتحادیه کې د غړو پوهنتونونو او لوړو زده کړو له موسسو سره په اړیکه کې دي او خپلې تجربې سره شریکوي.

دغه موسسه د خپلو محصلینو لپاره مجهز کتابتون لري، چې د فعالو پوهنځیو ټول کتابونه پکې موجود دي او تر څنګ یې د مطالعې لپاره پراخ او منظم ځای هم لري، چې محصلین کولی شي وخت ناوخت له دې کتابتون څخه ګټه واخلي، مطالعه او څېړنه پکې وکړي. ښاغلی ساپی وایي، پر دې کتابتون سر بېره، په کابل مرکزي پوهنتون کې د افغانستان د معلومات له مرکز سره یوه هوکړه لري، چې په هغه مرکز کې د پېښو د خطرونو د راکمولو په برخه کې لږ تر لږه ۳۰ زره کتابونه شته او د شرق د لوړو زده کړو موسسې محصلین کولی شي په انلاین ډول دغه کتابتون ته ننځوي او د خپلې اړتیا وړ کتابونه په وړیا ډول ډانلوډ کړي.

د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د ورځې په دریو وختونو کې د زده کړو زمینه برابره شوې ده. ښاغلی ساپی وایي، دا چې په خصوصي پوهنتونونو کې ډېری هغه کسان نوملیکنه کوي، چې تر څنګ یې پر نورو کارونو هم بوخت وي، نو هڅه یې کړې ده چې د محصل اړتیا ته په کتو ورته درسي ساعتونه هم برابر کړي. دی وایي، سهار وختي له پنځو تر اتو، له نهو تر دوولسو نیمو او درېیم ټایم یې هم د مازدیګر په پنځو بجو پیلېږي او د ماخوستن تر اتو بجو پورې دوام کوي.

شرق د لوړو زده کړو موسسې د اکاډمیکې فضا رامنځ ته کولو تر څنګ، د عملي زده کړو په برخه کې هم د خپلو محصلینو لپاره ډېرې اسانتیاوې رامنځ ته کړې دي، چې په دې برخه کې یې تر اوسه پورې درې محصلین د لا نورو زده کړو او تجربو تر لاسه کولو لپاره بهرنیو هېوادونو ته استولي دي او دغه لړۍ به دوام ولري. د دې موسسې اداره وایي، غواړي په راتلونکي کې د سپورټ کمېټه او د کمپیوټرساینس او اداري او تجارت پوهنځیو محصلینو ته د عملي زده کړو په برخه کې د سافټویرونو جوړولو او تجارتي اندونو شریکو کمپټې هم جوړې کړي. دغه موسسه چې د یوې بلې مرستندویه موسسې لخوا یې ملاتړ کېږي، د خپلو محصلینو لپار بېلابېل تخفیفونه لري. ښاغلی ساپی وایي، د ممتازو محصلینو، بېوزلو، معلولو او یا هم هغه کسان چې د کوم بنسټ له لوري دوی ته ورپېژندل شوي وي، بېلابېل تخفیفونه لري.

ښاغلی ساپی وایي، دا چې موسسه یې نیمه دولتي او په لوړو زده کړو وزارت کې رسماً ثبت شوې ده، نو له فراغت سره سم محصل ته د لوړو زده کړو وزارت لخوا تایید شوي تحصیلي اسنادونه ورکوي، څو محصل ترې په اړونده برخه کې ګټه واخلي. دی وایي، د دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ توپیر نهویني، خو دا چې دولتي پوهنتونونو ډېر کار کړی او اوس یې د ځان لپاره ځای پیدا کړی دی، نو د وخت په تېرېدو سره به د خلکو له ذهنه دا خبره ووځي چې ګواکې د دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ کوم توپیر موجود دی، ځکه نن سبا په نړۍ کې مخکښ پوهنتونونه همدا خصوصي پوهنتونونه دي.

د دې موسسې اداره وایي، لوړو زده کړو وزارت ته یې د حقوقو، ښوونې او روزنې او دغه راز د کرنې پوهنځي د منظورۍ غوښتنلیکونه سپارلي، چې باید په راتلونکې کې یې ولري، خو دا چې د افغانستان نفوس کم او د پوهنتونونو شمېر پکې زیات دی، نو ولسمشر د نویو پوهنتونونو او په پوهنتونونو کې د نویو پوهنځیو د جوړېدو کارونه ځنډولي دي. ښاغلی ساپی وایي، که ولسمشر یو ځل بیا د نویو پوهنځیو د جوړېدو امر وکړي، د پورته ذکر شویو پوهنځیو جوړول یې په لومړیتوبونو کې دي.

د شرق د لوړو زده کړو موسسې مشرتابه وایي، یوازینۍ ستونزه یې د ځای نشتوالی او لوړه مالیه ورکول دي. دوی وایي، لوړو زده کړو وزارت باید د مکافات او مجازات پروسه په سمه توګه عملي کړي، هغه پوهنتونونه چې پر شرایطو برابر خدمتونه وړاندې کوي، باید د نویو پوهنځیو د جوړولو اجازه هم ورکړل شي او هغه پوهنتونونه چې ټاکلي شرایط یې نه دي پوره کړي او د نورو خصوصي پوهنتونو لپاره هم پر مخ تور داغ ګرځېدلي، قانوني چلند ورسره وشي، څو خصوصي پوهنتونونه خپل ارزښت وساتي.

همیانی

# مصنوعي ځيرکتيا ((Artificial Intelligence))

ليکنه: عبيدالله ناصري

مصنوعي ځيرکتيا (AI) انساني ځيرکتيا ته ورته ځيرکتيا ده، چې په ماشينونو په خاصه توگه کمپيوټري سيستمونو کې ترې گټه اخيستل کېږي او د انسان په شان فکر، عمل، عکس العمل، زده کړه او تصميم نيونه کوي.

**د AI لنډ تاريخ**

د اوسنۍ مصنوعي ځيرکتيا زړي پخوانيو هغو فيلسوفانو شيندلي وو چې پخوا يې دا تيوري وړاندې کړې وه، چې د انسان فکر څرنگه کار کوي، څو يې خلکو ته په سمبوليکه بڼه بيان کړي. په ۱۹۴۰ ز کال کې د يوه ډيجيټل کمپيوټر اختراع چې فعاليت يې پر رياضيکي عمليو باندې ولاړ و، اختراع د فيلسوفانو د ياد کار پايله شوه. دې کار او د دې کار تر شا مفکورو ډېر څېړونکي دې ته وهڅول، څو د يوه الکټرونيک مغز د جوړښت د امکان پر شتون باندې جدي بحثونه او څېړنې وکړي.

د دويمې نړيوالې جگړې پر مهال برېتانوي کمپيوټر ساينس پوه الن ټيورېنگ د Enigma کوډ (چې جرمني ځواکونو د پټو او معتبرو پيغامونو د لېږد را لېږد او د هغه د پوره امنيت ساتلو لپاره کارولو)، د امنيت ماتولو لپاره پر يوه ماشين باندې کار وکړ. الن ټيورېنگ او همکارانو يې د Bombe په نامه داسې ماشين جوړ کړ چې د Enigma رمزونه يې کشف او د هغه امنيت يې ماتولو.

Enigma او Bombe ماشينونه د مصنوعي ځيرکتيا بنسټ ايښودونکي گڼل کېږي. ټيورېنگ وايي، داسې يو ماشين چې له انسان سره داسې حالت کې مرسته او پوهاوی وکړي چې انسان دا درک نه کړي چې دا ماشين دی او که انسان، ښايي «The Imitation Game» لوبه وگڼې او کولی شو ور ته ځيرک ماشين ووايو. د دې موضوع په اړه مورټن تيلډم په ۲۰۱۴ ز کال کې د Imitation Game په نامه يو مستند فلم هم جوړ کړی.

په ۱۹٥٦ ز کال کې امريکايي کمپيوټر ساينس پوه جان مکارتي د Dartmouth په نوم يو کنفرانس جوړ کړ، په ياد کنفرانس کې د مصنوعي ځيرکتيا (Artificial Intelligence) اصطلاح د لومړي ځل لپاره و منل شوه. د دې لپاره چې د مصنوعي ځيرکتيا ځواک لوړ او په اړه يې عامه پوهاوی زيات شي، د امريکا متحده اياالتونو په بېلابېلو برخو کې ډېرو څېړنيزو مرکزونو پر کار پيل وکړ. څېړونکو الن نيول او هربرټ سمن په دې برخه کې، چې مصنوعي ځيرکتيا د کمپيوټر ساينس يوه څانگه وگڼي او گټه اخيستنه يې په نړيواله کچه زياته شي، مؤثر رول ولوباوه.

**د مصنوعي ځيرکتيا ډولونه**

مصنوعي ځيرکتيا کېدای شي پر ډېرو برخو او ډولونو باندې ووېشل شي، خو په اصل کې مصنوعي ځيرکتيا پر دوو اساسي برخو، د وړتياوو له مخې او عملکرد له مخې باندې وېشل شوې ده.

**د وړتياوو له مخې**

**۱- محدوده يا کمزورې مصنوعي ځيرکتيا (Narrow or Weak AI)**

محدوده يا کمزورې مصنوعي ځيرکتيا د AI يو ډول دی چې په خپلې ټاکلې ځيرکتيا سره د يوې اختصاصي او محدودې دندې د تر سره کولو توان لري. له ټاکل شويو محدوديتونو ورهاخوا د کار کولو ځواک نه لري.

په اوسني عصر کې د AI له دې ډول څخه په پراخه کچه گټه اخيستل کېږي چې تر ټولو ښه بېلگه يې په آيفون کې Apple Siri دی، چې په يوه محدوده ساحه کې د عمل ځواک لري.

د مصنوعي ځيرکتيا له دې ډول څخه په نورو چارو لکه، شطرنج لوبه، انټرنېټي پاڼو کې د پېر او پلور چارې، بې موټروانه موټرونه او د خبرو او انځورونو پېژندونکو پروگرامونو کې هم گټه اخيستل کېږي.

**۲- عمومي ځيرکتيا (General AI)**

د AI دا ډول يو انسان ته ورته د ډېرو مغلقو او پېچلو چارو د پر مخ وړلو او تر سره کولو ځواک لري.

تر اوسه داسې کوم سيستم وجود نه لري چې د AI له دې ډول څخه اوسي او د يو انسان په شان ټولې چارې کنټرول او تر سره کړي. خو په نړيواله کچه څېړونکي په دې برخه کې پر څېړنو بوخت دي، څو داسې سيستمونه او ماشينونه جوړ کړي چې د AI دا ډول (عمومي ځيرکتيا) پکې کارول شوې وي. د يادولو وړ ده چې دا ډول ماشينونه او سيستمونه جوړول به يو څه وخت ته اړتيا ولري.

**۳- نا محدوده او ځواکمنه مصنوعي ځيرکتيا (Super or Strong AI)**

د AI دا ډول په داسې يوه سطحه کې ځای لري چې ورڅخه جوړ شوي ماشينونه له انساني ځيرکتيا څخه پياوړي او ځيرک دي او د داسې چارو د تر سره کولو ځواک لري چې انسان يې له تر سره کولو محروم دی.

د AI د دې ډول ځينې کليدي خاصيتونه د فکر کولو، استدلال، د معمايي لوبو حل کول (Puzzle)، قضاوت، پلان جوړولو، زده کړې او له خلکو سره د اړيکو په ساتلو کې وړتيا ده او دا چارې به د AI د ياد ډول در لودونکی ماشين او يا هم سيستم چارې ټولې په خپله تر سره کوي.

د AI دا ډول هم تر اوسه يوه فرضي موضوع ده، د داسې سيستمونو جوړول يوه انقلابي پېښه ده او تر اوسه په حقيقي نړۍ کې نشته.

**د عملکرد له مخې**

**٤- انفعالي ماشينونه (Reactive Machines)**

انفعالي ماشينونه د مصنوعي ځيرکتيا له تر ټولو اساسي ډولونو څخه دي. ياد ماشينونه او سيستمونه د پخوا تېرو شويو پېښو او يا هم تجربو د په ياد ساتلو توان نه لري، څو په راتلونکې کې ترې گټه واخلي. يوازې پر فعلي چارو تمرکز او د موجود امکان په کچه غبرگون ښيي. د IBM کمپنۍ يو کمپيوټر (Deep Blue) چې د شطرنج لپاره جوړ شوی، په جوړښت کې د AI له ياد ډول څخه کار اخيستل شوی دی.

**٥- محدوده حافظه (Limited Memory)**

د محدودې حافظې لرونکي ماشينونه کولی شي پخوا تېرې شوې پېښې او تجربې د يو لنډ وخت لپاره په ياد وساتي او په راتلونکې کې ترې د يوې محدودې مودې لپاره گټه واخلي.

بې موټروانه موټرونه د دې ډول غوره بېلگه ده چې پر سرک د ياد موټر شاوخوا د روانو موټرونو د سرعت، د دوی تر منځ واټن، د مجاز لوړ سرعت کچه او داسې نورو اړوندو معلوماتو ته په محاسبې د سړک پر سر خپل تگ ته دوام ورکړي.

**٦- ذهني تيوري (Theory of Mind)**

د ذهني تيورۍ مصنوعي ځيرکتيا لرونکي سيستمونه او ماشينونه بايد د يو انسان احساسات او باورونه درک او له خلکو سره په ټولنيزه بڼه د اړيکو پر ټينگولو واکمن وي.

د AI دا ډول لا تر اوسه د اوسني عصر په ماشينونو کې نه دی پلي شوی، خو څېړونکي په اړونده برخه کې پر څېړنو بوخت دي.

**۷- خودآگاهي (Self-Awareness)**

پر خودآگاهۍ استواره مصنوعي ځيرکتيا د مصنوعي ځيرکتيا د راتلونکې لپاره تر ټولو اړين ډول دی، چې د يادې AI در لودونکي ماشينونه به بې حده ځيرک او له ځانه به د عاطفي او خودآگاهۍ احساسات لري. پر دې ډول AI باندې استوار ماشينونه هم تر اوسه نشته.

**هغه برخې چې له AI څخه پکې گټه اخيستل شوې**

مصنوعي ځيرکتيا په اوسني عصر کې اغېزناک رول لوبوي، چې په ځينو مواردو کې يې شتون د حس کېدو وړ او په ځينو کې بيا هېڅ پام نه ور گرځي.

اوسمهال هر کله چې موږ په گوگل (Google) کې پلټنه کوو، له يو ځای څخه بل ځای ته ټکټونه پېرو، هوټلونو کې کوټې نيسو، په وېبپاڼو کې خپاره شوي اعلانونه (Ads) وينو او يا هم کله چې په فېسبوک کې د خلکو پوسټونه ښکته او پورته کوو، د دې ټولو شا ته له AI څخه گټه اخيستل شوې او د هغې له خوا تنظيمېږي.

**په روغتيايي برخه کې**

AI په روغتيايي برخه کې يو انقلابي بدلون راوستی. د يو شخص د روغتيايي دوسيو له امنيت ساتلو نيولې بيا تر جراحۍ. موږ ټول د دې شاهدان يو چې له ډېر پخوا راهيسې په روغتيايي برخه کې کمی احساسېږي.

AI اوس ډاکټرانو ته زيات فرصتونه برابر کړي او د دوی بوختيا يې څه نا څه را کمه کړې ده. پر AI استوار ماشينونه د ناروغيو په تشخيص او درملو جوړولو کې ځانگړی رول لوبوي.

**په مالي چارو کې**

مالي سکټور تل د مالي راپورونو، دقت او په لويه کچه د مقداري معلوماتو پروسس او محاسبې ته اړتيا لري، څو يو غوڅ او قاطع تصميم ونيسي.

د AI په دقت سره کار کولو ته په کتو، مالي سکټور په چټکۍ سره خپلې ټولې چارې الگوريتمي سوداگرۍ، انطباقي ځيرکتيا، چټ باټونو (Chatbot) او نورو ماشيني چارو ته اړوي او خپلې ټولې چارې پر دې باندې مخ ته وړي.

اوس پر AI سمبالاستوار داسې ماشيني مشاورين وجود لري چې په مارکېټ کې ډېټا ته په کتو، د اسهامو او ونډو په اړه تر ټولو دقيقې پرېکړې او وړاندوېينې کوي. په دې برخه کې يې د بې ځايه مالي مصارفو او انساني انرژۍ د سوځېدو او مالي مصارفو تر ډېره بريده مخه نيولې ده.

**په ځيرکو موټرونو او ډرون الوتکو کې**

په اوسني عصر کې له AI څخه گټه اخيستنه په پراخه کچه زياته شوې. د نړۍ وتلي شرکتونه لکه امازون او والمارټ په لويه کچه په ډرون د رسونې پر خدماتو باندې پانگونه کړې او دا ډول چارې به ډېر ژر په نړيواله کچه په نورو هېوادونو او د نورو شرکتونو له خوا عام شي.

دا ډول الوتکې او موټرونه د AI غوره بېلگې دي، څو وښيي چې څرنگه يې د ماشينونو په نړۍ کې انقلاب راوستی او په کم وخت کې د زيات کار د تر سره کولو توان لري.

ځيرک موټرونه او يا هم ډرون الوتکې د ډېرو اهدافو لکه، د ټکسي په توگه، د رستورانټونو له خوا د خوراکي توکو د انتقال، په پوځي برخه کې د هوايي عملياتو، د آنلاين پلورونکو لکه امازون له خوا د پېرل شويو توکو د انتقال، د طبيعي پېښو پر مهال د ښېرنيو مرستو په رسولو او په فلم جوړولو کې د کمرې په توگه گټه اخيستل کېږي.

**د سياحت او ټرانسپورټ په برخه کې**

په دواړو سياحت او ټرانسپورټ کې AI پياوړی او کليدي رول لوبوي. کور او يا هم کار ځای ته د تللو تر ټولو لنډې لارې لپاره لارښوونه او په سياحت کې د پلان جوړولو له امله AI له خلکو سره زياته مرسته کړې، څو زيات څه په کم وخت کې ترتيب کړي.

سياحتي شرکتونه اوسمهال پر AI سمبال له ځيرکو وسايلو د سياحتونو په ترتيب کې په پراخه کچه گټه اخلي او سياحان د دې په واسطه کولی شي په ياد سفر کې د تللو هوټلونو، رستورانټونو، تفريح ځايونو او داسې نورو ځايونو باندې نظرونه ورکړي او کله چې کوم بل کس غواړي ياد ځای ته په سياحت لاړ شي، له ورکړل شويو نظرياتو څخه په گټې اخيستنې کولی شي څو لا پياوړی، غوڅ او باوري تصميم ونيسي.

چټ باټونه (Chatbots) هم په دې برخه کې له سياحانو سره مرسته کوي او دوی ته نږدې هوټلونه، رستورانټونه، د هغو قيمتونه او داسې نور اړوند ځايونه په ښه کوي، څو وکولی شي يو ارامه او هوسا سفر ولري.

د ټرانسپورټ په برخه کې موږ کولی شو د اوس لپاره پر AI سمبال Google Maps د بېلگې په شان راوړو. Google Maps کولی شي موږ ته زموږ د ټاکل شوې موخې لپاره د تللې لارې لارښوونه وکړي، هغه که په بايسکل اوسو که په موټر، که په بس، که په رېل او يا هم پلې روان اوسو.. AI له کاروباريانو سره څه نا څه په هره برخه کې مرسته کړې ده.

**امنيت او استخبارات**

امنيتي کمرې اوس تقريباً ټوله نړۍ په خاصه توگه د پر مختللو هېوادونه په ښارونو کې د ترافيکي او امنيتي اهدافو لپاره کارول کېږي.

کله چې يوه ښار کې زرگونه امنيتي کمرې او پکې د ميليونونو خلکو استوگنه گورو، دا را ته ناممکنه ښکاري چې امنيتي کمرې د دې دومره شمېر خلکو امنيت وساتلی او يا د يو مجرم پکې په اسانۍ وپېژني. خو مصنوعي ځيرکتيا (AI) دا امکان را منځته کړی څو ياد کار د په اسانۍ تر سره شي.

مخ او غږ پېژندونکې ټکنالوژۍ ورځ په ورځ د پرمختگ پر لور روانې دي. اوسمهال د چين په ځينو ښارونو کې ياده ټکنالوژي پلې کېږي او د امنيت د ټينگښت لپاره ور څخه گټه اخيستل کېږي چې په نږدې راتلونکې کې به په ټوله نړۍ کې پلې وي.

**ټولنيزې شبکې**

که فکر کوی چې پر AI سمبال ځيرکو موټرونو يا الوتکو ستاسو په شخصي ژوند تاثير نه دی کړی، هغه هم د دې له امله چې تر اوسه ستاسو سيمه کې نشته، نو په فېسبوک، ټوېټر، انسټاگرام، سنپ چټ او يا هم داسې نور اپلېکشنونه چې ستاسو سيمه کې وجود لري، داسې شيان چې پرته له استفادې يې ستاسو يوه ورځ هم نه تېرېږي، کې څه ووايی!

حقيقت دا دی، کله چې تاسې له ټولنيزو شبکو گټه اخلی، په هغې کې زياته برخه تصميمونو او کړنو، له نوټيفېکېشن نيولې بيا تر پوسټونو، ټولو هغو کې د AI نفوذ شته. AI يادې ټولنيزې شبکې کنټرولوي او ځينې اړينې چارې لکه، په ټولنيزو شبکو کې د اعلانونو خپرول او د هغې رسول اړوند خلکو ته پر مخ وړي.

**ولې مصنوعي ځيرکتيا (AI) ته اړتيا لرو؟**

AI ته موږ اړتيا لرو، ځکه کوم ورځني کارونه چې موږ يې بايد تر سره کړو، ورځ په ورځ پکې زياتوالی راځي، نو دا يوه ښه مفکوره ده څو يادې چارې په ماشيني توگه تر سره کړو. AI د انساني ځواک په سپمولو کې مرسته کوي او په توليد کې زياتوالی راوړي. لکه څرنگه چې پخوا په فابريکو او نورو توليدي برخو کې زياتره له انساني ځواک څخه گټه اخيستل کېده، همدا شان توليد هم په يوه محدوده کچه د زيات وخت په تېرېدو تهيه کېدو. خو دا چې فابريکې اوسمهال پر ماشينونو باندې سمبال دي، په ډېر کم وخت کې په يوه زياته کچه توليدات ورکوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۱۰ |
| € | ۹۰,٤۰ |
| Rp. | ٥۰٥ |
| ₹ | ۱۱۷۰ |
| ¥ | ۱۱,٥۰ |
| £ | ۱۰۰,۳۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسير ورځپانه

**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
**گرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايگل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




یکشنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ ۲۳مه | د ۲۰۱۹ د جولای ۱٤مه | دریم کال | ٤۰۳یمه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | ٤۰ | ٤۳ | ٤۲ | ٤۱ | ۳٦ |
| ۱۹ | ۲٤ | ۲٥ | ۳۰ | ۲۷ | ۲٥ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۸ | لمر ختل ۰٤:٤۹ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیگر ۰۳:٤۲ | ماښام ۰۷:۰۹ | ماخوستن ۰۸:٥۱

## نړۍ




## در نشست دیروز ولسی جرگه رؤسا، معاونین و منشیان هفت کمیسیون این جرگه انتخاب شدند



دیروز رؤسا، معاونین و منشیان هفت کمیسیون ولسی جرگه انتخاب شدند و قرار است هیئت‌های اداری متباقی ده کمیسیون دیگر، امروز و فردا انتخاب شوند.

رحیم الله غالب معاون دارالانشای ولسی جرگه، دیروز به آژانس خبری پژواک گفته است که امروز (۲۲ سرطان) نشست ولسی جرگه به دلیل انتخاب رؤسا، معاونین و منشی‌های هفت کمیسیون برگزار نشد.

بر اساس معلومات او، کمیسیون‌های مواصلات و مخابرات، فرهنگی، دفاعی، صحت و جوانان، عدلی و قضایی، محیط زیست و اقتصاد ملی، هفت کمیسیونی است که رؤسا و اعضای هیئت‌های اداری آنها از سوی اعضای کمیسیون‌ها انتخاب شدند.

به اساس معلومات وی، محمد اکبر سلطان زاده به حیث رئیس کمیسون مواصلات و مخابرات، عباس ابراهیم زاده معاون و حلیمه صدف کریمی به حیث منشی این کمیسیون انتخاب شده اند.

همچنان در کمیسیون فرهنگی، عزیزگل شاهین رئیس، لیلما ولی حکیمی معاون و عبدالرزاق هاشمی منشی و در کمیسیون دفاعی، انجنیر میرحیدر افضلی رئیس، غلام ولی افغان معاون و مریم سلیمانخیل به حیث منشی انتخاب شده اند.

او افزوده است که در کمیسیون صحت و جوانان، نجیب الله ناصر رئیس، خدیجه الهام معاون و یارباز خان حمیدی به حیث منشی و در کمیسیون عدلی و قضایی خدیجه بلخابی رئیس، خالد اسد معاون و نیکبخت فهیمی به حیث منشی برگزیده شده اند.

غالب خاطر نشان ساخته است که در کمیسیون محیط زیست، خان محمد وردگ رئیس، محمد رضا خوشک وطندوست معاون و نفیسه عظیمی منشی و همچنان در کمیسیون اقتصاد ملی، عبدالعزیز حکیمی به حیث رئیس، عبدالظاهر تمیم معاون و فریده کوچی به حیث منشی انتخاب شده اند.

## د امریکا کانګرېس هغه طرحه تایید کړې چې د ولسمشر ټرمپ پوځي واک محدودوي



د امریکا کانګرېس یوه داسې طرحه تایید کړې چې له مخې به یې د ایران پر وړاندې د پوځي اقدام لپاره د ولسمشر ټرمپ واک محدود شي.

د دغې پرېکړې پر اساس به ټرمپ پر ایران د هوایي بریدونو تر پیل مخکې له کانګرېسه تایید تر لاسه کوي.

د امریکا د استازو جرګې چې ډیموکراټان پکې اکثریت دي، دغه پیشنهادي طرحه په ۲٥۱ موافقو او ۱۷۰ مخالفو رایو تایید کړې ده.

تر شلو زیاتو جمهوري غوښتونکو هم له ډیموکراټانو سره لاس یو کړ او دغه وړاندیز یې د استازو جرګې د دفاعي بودجې په لایحه کې شامل کړ.

له دې سره به له هغې ۷٥۰ میلیارده ډالري پیشنهادي دفاعي بودجې څخه ۱۷ میلیارده ډالر کم شي چې ټرمپ غوښتي دي.

د استازو جرګې تر څنګ، مشرانو جرګه چې جمهوري غوښتونکي پکې اکثریت دي، اوس باید پر دې بحث وکړي چې ایا د ایران پر وړاندې د بریدونو لپاره د ټرمپ د وړتیا مخنیوی د دفاعي لایحې په نهایي بڼه کې شامل کړي، که نه.

راپورونه وایي، ولسمشر ټرمپ د جون میاشتې په وروستیو کې د تهران له خوا د امریکا د یوې بې پیلوټه الوتکې د ویشتلو په غبرګون کې پر ایران د پوځي بریدونو امر تایید کړی و، خو په وروستۍ شېبه کې یې دا پرېکړه بېرته واخیسته.

امریکا هغه مهال ادعا وکړه چې دا الوتکه هورمز تنګي ته څېرمه په نړیوال هوایي حریم کې ویشتل شوې وه، خو ایران ادعا وکړه چې دغه بې پیلوټه الوتکه یې د ایران په هوایي حریم کې ویشتلې ده.

## په سومالیا کې پر یوه هوټل برید لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اړولې



د سومالیا په ساحلي ښار کیسمایو کې پر یوه هوټل د الشباب وسله والې ډلې په برید کې لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

د جرمني خبري اژانس د سومالیا د یوه لوړپوړي پولیس افسر په حواله راپور ورکړی چې په پېښه کې لږ تر لږه ۲٦ کسان وژل شوي او لسګونه نور ټپیان دي چې د ځینو ټپیانو روغتیایي وضعیت د اندېښنې وړ ښودل شوی او ښایي د مړو شمېر نور هم زیات شي.

د سومالیا الشباب تروریستي ډلې هم د دغو بریدونو مسوولیت منلی او ویلي یې دي چې په دغو بریدونو کې یې ډېرو کسانو ته مرګ ژوبله اړولې چې بهرنیان هم پکې شامل دي.


برید په یوه موټربم چاودنه پیل شو چې وروسته وسله وال هوټل ته ننوتي او په خلکو یې ډزې کړې دي.

بلخوا د سومالیا لپاره د ملګرو ملتونو استازي جیمز سوان په یوه اعلامیه کې دغه برید غندلی او د کیسمایو له اوسېدونکو سره یې د ملګرو ملتونو پیوستون څرګند کړی دی.

الشباب وسله واله ډله چې له القاعده شبکې سره هم نږدې اړیکې لري، د سومالیا د جنوب او مرکز پر زیاتو سیمو کنټرول لري او وخت ناوخت د دغه هېواد په لویو ښارونو کې پر پوځي او ملکي تاسیساتو بریدونه کوي.

## ژوند

## د معدې درد او د مخنیوي لارې چارې یې



د معدې درد له خپل درد سره د بدن په نورو غړو کې هم درد رامنځته کولای شي. ډېری داسې ناروغان لیدل شوي، چې ناروغي یا درد یې د بدن په نورو غړو کې محسوسېږي او اصلي لامل یې د معدې ناروغي وي. د معدې د درد دې مخنیوي په موخه له لاندې لارښوونو څخه ګټه واخلئ:

لومړی: نانا چې ځینې وګړي ورته نعنا وایي وخورئ، خو فکر مو وي چې له کچې زیات خوړل یې بیا کولای شي د معدې درد لا زیات کړي، یعنې په کچه یې خوړل ګټور دي.


دویم: په چای کې دارچین واچوئ او ویې څښئ؛ ځکه دارچین هم کولای شي په اړونده برخه کې تر ټولو غوره ګټې ولري.

څلورم: زنجبیل یا سونډې کولای شي د معدې دې درد مخه ونیسي او معده مو ځوښ ونه کړي؛ ځکه زنجبیل یا سونډې معده پیاوړې او قوي کوي چې بیا د ډېرو څیزونو پرې زور نه رسېږي.

پنځم: له اناناس څخه چې ځینې وګړي ورته انه ناس وایي ګټه واخلئ؛ ځکه دا هم کولای شي د معدې دې درد مخنیوی وکړي.

شپږم: له لیمو سره بوره یوځای کړئ او ویې څښئ. له لیمو سره د بورې یوځایوالی کولای شي په ښتینې ډول مو په ډېر لږ وخت کې د معدې له درد څخه خلاص کړي.

## په خپل مسلک کې ځان ورسوئ!



په هغه څانګه او رشته کې چې زده کړې مو په کې کړې دي، لازمه تجربه او مهارت لاسته راوړئ. په دې برخې کې د زیاتې مطالعې په کولو سره ځان پر یوه مسلکې او د دې برخې پر کارپوه باندې بدل کړئ. څومره چې په خپله رشته کې زیات معلومات او پوهه ولرئ، په هماغه کچه به خلاق او نوښتګر فکر ولرئ. علم او پوهه تاسو ته هغه قوي وزرونه درکوي، چې بیا کولای شئ د خپلې خوښې هغه ځای ته پرې پرواز وکړئ، چې له دې مخکې ورته څوک نه دي رسېدلي. نو د دې کارونو په تر سره کولو کې ځنډ مه کوئ. د نورو او نویو شیانو زده کول هم اړین دي، خو په خپل مسلک کې ځان رسولو ته لومړیتوب ورکړئ. ځکه په دې کار سره مو پر ځان باور زیاتېږي، کله مو چې پر ځان باور زیات شي، په اسانۍ سره خپلې موخې ته ځان رسولی شئ. که تاسو په یو وخت د ډېرو مسلکونو زده کولو ته لاس واچوئ، بیا نه شئ کولی ښه وځلېږئ.